په غنيمت پسې مه کرځئ ځانونه اصلاح کړئ

«أي محمدﷺ!» دغنيمتونو په اړوند له تانه پوښتنه کوي، ورته ووايه چې غنيمتونه دالله (جل جلاله) او درسول ﷺ دي. نو تاسي له الله تعالى څخه وه ويريږئ، دخپل منځي حالاتو اصلاح وکړئ، (يعني په خپلو منځونو کي سره دوستي وکړئ او اختلاف مه کوئ) دالله (جل جلاله) او رسول ﷺ حکم ومنئ.

زباړه (محمد - ۱-۲)

شريعت

اوونيزه

دافغانستان دطالبانو داسلامي تحريك نشراتي ارگان

تقاضاي امارت نه كنيد

عبدالرحمن بن سمره رضى الله عنه گفت كه آن حضرت ﷺ برايش فرمود: طالب مسئوليت وامارت مشو، اگر مقام امارت در اثر خواسته ات داده شود از طرف خداوند معاونتي همرايت نخواهد شد.

(بخاري)

لومړى كال | پنځه څلويښتمه گڼه | دوشنبه د ۱۳۷۵ هـ ش كال دعقرب دمياشتي (۲۱) | د۱۹۹٦ميلادي كال نومبر (۱۱) | د۱٤۱۷هـ ق كال جمادي الثاني (۳۰)

دبهرنيو چارو سر پرست وزير محترم ملا محمد غوث افغان اسلامي آژانس ته وويل:

دهيواد عالمان او پوهان به دافغانستان راتلونكي كړنلاره ټاكي

په پاكستان كي دحكومت تبديلي ددي هيواد كورني موضوع ده

دافغانستان دبهرنيو چارو وزارت سر پرست محترم ملا محمد غوث دافغان اسلامي آژانس ته ويلي دي چې كابل اوس هم غير نظامي دي او ددوي قواوي له كابل نه بهر دكابل ښار څخه په دفاع كي بوختي دي. ده وويل: كه څه هم مخالفين بيا هم دغير نظامي كيدو خبري كوي نو دوي دي خپلي قواوي پنجشير او مزارته يوځي او مور به خپلي قواوي عسكري قطعاتو ته راستني كړو. ده څرگنده كړه: مور داور بند [illegible] (٤ مخ)

دطالبانو جهادي ځواكونو دشكردرې او گلدرې درې فتح كړې

دبگرام هوايي ډگر په لوريې يو شمير ستراتيژيك ځايونه هم نيولي دي

له كابل څخه زمونږ خبريال خبر راكوي چې دافغانستان داسلامي دولت جهادي ځواكونو له دفاعيانو څخه دشكردرې او گلدرې دواړه درې ونيولي كله چې دفاعانو په خپلو مذبوحانه تعرضي عملياتو كي ددغو درو دبيرته اخستلو هم وكړه دطالبانو جهادي قوتونو له خوا نه سختي ماتي سره مخامخ شول او ګڼ شمير مړي بې پرځاي پاتي شول. دطالبانو جهادي ځواك دبگرام دهوايي اډي په لور يو شمير نوري ستراتيژيكي غونډۍ او ځايونه هم تر خپل كنترول لاندي را وستي دي.

په مسكو كي دافغانستان دجگړې دروسي جنگياليانو دورځي دلمانځني په غونډه كي لويه چاودنه وشوه

دمعيوبينو داداري درئيس په شمول ۱۱تنه مړه او ګڼ شمير نور ټپيان شول

دلږم ۲۰: په مسكو كي كله چې روسانو په افغانستان كي دروسي جنگيالانو ورځ ددوي په يوه هديره كي لمانځله، نا څاپه يوه لويه چاودنه وشوه چې دروسي عسكرو دمعيوبينو داداري درئيس په شمول ۱۱ تنه مړه او ګڼ شمير نور بې ټپيان شول. دروسانو دپاره افغانستان هغه دوامداره ناسور دي چه په پيړيو پيړيو به بې دردونه جاري وي او دافغانانو دهيښه به بې ماشومان په ځانگوگانو كي ويريږي.

دWFPمؤسسه دبخوا په شان له افغانستان سره مرسته كوي

دملگرو ملتو د WFP مؤسسه به دبخوا په شان دافغانستان له خلكو سره خپلو مرستو ته دوام وكړي. زمونږ دخبريالدخبر سره سم دغه موضوع په هغه غونډه كي تائيد شوه چې په افغانستان كي ۲٤ انكشافي پروژو دمسوولينو او داسلام آباد او پيښور WFP دمرانو په گډون په پيښور كي د WFP په مركز كي جوړه شوي وه خبريال زياتوي په دي غونډه كي دبيلا بيلو افغاني پروژو يا انجيوگانو مسوولين دملگرو ملتو دي پروال سازمان ته هغه اسناد سپكاره شول چې دافغانستان داسلامي دولت له خوا دهيواد په بيلو بيلو سيمو كي هغوي ته دهر ډول مرستي او عرفاني فعاليت ددوام اجازه وركړه شويده.

سرمقاله

بشپړ اسلامي انقلاب هر اړخيزه بدلون ته اړه لري

دطالبانو اسلامي تحريك چې دغورځنگ اصلي چيني يې ديني مدرسي او علمي مركزونه دي په نظامي لحاظ په ډير حيرانونكي ډول په هيواد كي دظالمانو، مفسدانو، لوټمارانو او منافقانو په مقابل كي په پر له پسي توگه دظلم، فساد، لوټماري، بي عزتي او دوه مخي په له مينځه وړلو كښي بې بي ساري بريالتيوبونه تر لاسه كړي دي او تر اوسه پوري يې دهيواد ۷۵٪ ځمكه ددوي له بد مرغه تسلط څخه آزاده كړي ده.

دهيواد مركز كابل چې دهيواد دزړه حيثيت لري اوس دطالبانو داسلامي تحريك تر كنترول لاندي دي چې داسلامي سياست په فقهي فرهنگ كي ورته تغلبي جائز حكومت ويل كيږي او په كندهار كښي له أمير المؤمنين سره دهيواد دېر نيم زرتنه ديني عالمانو په بيعت كولو ورته دعقدوحل دخاوندانو په لاسونو شورايي او بيعتي حكومت وايي چې دا ټول داسلامي سياست مثل شوي اصطلاحات دي.

ددي دپاره چې دطالبانو اسلامي تحريك ديوه اسلامي انقلاب پاتې په (۲) مخ

دكابل سر پرستي شورا رئيس په سعودي عرب كي دهغه هيواد دلوړ رتبه مقاماتو سره وكتل

په كابل كي دسر پرستي شورا رئيس محترم ملا محمد رباني چې په دي وروستيو وختو كي دعمري دادا كولو په غرض سعودي عربستان ته تللي و تيره اوونۍ ددغه هيواد لوړ رتبه مقاماتو سره وكتل.

زمونږ خبريال دباختر اطلاعاتي آژانس په حواله ليكي، په دي كتنه كي چې په دوستانه فضا كي وشوه دافغانستان په روانو حالاتو خبري وشوي چې گټوري او ارزښتناكي ويلل شوي.

دشينوارو ددوو قومونو ترمنځ دځمكي لانجه حل شوه

دننگرهار ولايت له اچين ولسوالي څخه زمونږ خبريال خبر راكوي چې دهغې ولسوالي دحيدر خيلو، رحمدادخيلو او بابر خيلو قامونو تر منځ دشپږ ځمكي لانجه چې له تېر مياشتو څخه را پېښوا روانه وه دعقرب په ۱۳ نيټه حل شوه.

[illegible]

په جلال آباد كي سل غصب شوي كورونه بيرته خپلو اصلي خاوندانوته وسپارل شول

دجلال آباد ښاروالي مياشتني عايدات چې پخوا يوازي سل مليونه افغاني راتحصيل كيدلي او پولي بانك ته نه تحويل كيدي اوس دري نيم سوه مليونه افغانيو ته رسيږي.

دجلال آباد ښاروال محترم حاجي حبيب الله مشكل په يوه ځانگړي مركه كي دپوروني مطلب دخرگندولو په ترځ كي زياته كړيده دطالبانو داسلامي تحريك په لاس دجلال آباد له نيول كيدو وروسته تر اوسه پوري دجلال آباد ښاروالي وكولي شول چې په دي ښاركي داتيا وو نه ترسلو كورونو پوري چې پخوا په ظلم غصب اوقبضه شوي وو خپلو اصلي خاوندانو ته ور وسپارلي، او دهرو دوو دريو ورځو وروسته خلكو ته ابلاغ كيږي چې دولتي نيول شوي كورونه خوشي كړي.

ده زياته كړه: په تيره يوه (٤) مخ

دننگرهار والي محترم مولوي عبدالكبير بي بي سي راديو ته وويل:

ددره نور په دننگو غرونو كي ددښمن حالي له مينځه لاړي

دغه سيمه ددښمن دمنافقت له امله څو ساعته دمخالفينو په لاس كي وه

دننگرهار والي محترم مولوي عبد الكبير ويلي دي چې ددره نور ولسوالي په څو ساعته دمخالفينو لاس ته ورغلي وه خو وروسته داسلامي دولت مجاهدينو هغه ولسوالي بيرته ونيوله.

مولوي عبد الكبير دبي بي سي له راديو سره په مركه كي وويل: څنگه چې ددره سخكي پو شړل شوي قومانداني حضرت علي ددره نور ولسوال ته ويلي وو چې هغه به اسلامي دولت سره يو ځاي شي خو چې كله ولسوال دنورو ملگرو سره په اړونده مسأله دخبرو (٤) مخ

روز تولد علامه اقبال تجليل گرديد

روز شنبه بازروز تولد شاعر بزرگ شرق علامه اقبال مصادف بود اين روز با برگذاري محافل ومراسم باشكوه تجليل گرديد وحسن آن در مورد آثار فلسفي اقبال وابعاد مختلف شعوري سخنراني به عمل آمد. علامه اقبال يكي از متفكرين بزرگ فلسفي وشاعران برجسته قرن حاضر در شرق ميباشد. علاوه برزبان اردو، به زبان فارسي اشعار شيوا با مفاهيم عالي فلسفي وهنري سروده است.

په واشنگټن كي دطالبانو په ملاتړ مظاهره وشوه او دطالبانو بريو ولمانځل شو

دنومبر په اتمه نيټه په واشنگټن كي دافغاني محصلينو او علمي دښمنو انجمنانو له خوا دطالبانو داسلامي تحريك په ملاتړ مظاهره وشوه. [illegible] مظاهري برخه والو ديولا سيلو وښاوو په ترځ كي وويل راځئ چې دطالبانو بري ولمانځو څكه هغوي هيواد ته سوله، امنيت او اخلاق بيرته راوستل.

[illegible] دافغاني ميرمنو او [illegible] وه داسي شعارونه وركول كيدل: ژوندي دي وي طالبان، مړه دي وي دوستم مسعود او دهغوي ملاتړ كوونكي.

[illegible] ژورنالستانو او خبريالانو څخه وغوښتل چې دطالبانو په نسبت غلط خبرونه خپاره نه كړي. په پاي كي مظاهره چيانو په امريكا كي دروس، ايران، هند، او پاكستان سفارتونو ته خپل بريكونه ليكونه وركړه او وروسته دسيمي مايي مختي ته هم ورغلل.

دختيځ زون رئيس محترم مولوي عبدالكبير ويلي دي:

دشهنواز تني خبري څرگند دروغ دي

دغه راز ادعاگاني پخواني ائتلافي اداري هم كړولي

دختيځ زون تنظيمه رئيس او دننگرهار والي محترم مولوي عبدالكبير دشهنواز تني هغه خبره چې گني دهغه افراد دطالبانو سره په يوه سنگر كي جنگيږي په كلكه رد كړه او وي ويل: دا ډول بې بنياده اوبې اساسه ادعاگاني پخواني ائتلافي اداري هم په داسي وخت كي كړي وي چې دطالبانو ځواكونه دحكمتيار ځواكونو سره په چار آسياب ارګندي كي (٤ مخ)

مولوي وكيل احمد (امركول) او عبدالسلام ښارزي وويل:

په افغانستان كي دهيروئين جوړولو ټولي كارخاني تړل شويدي

په ننگرهار كي به ډير ژر دمخدره موادو په خلاف كمپاين پيل شي

دطالبانو داسلامي تحريك دشورا غړي محترم وكيل احمد ويلي دي چې طالبان داسلامي شريعت سره سم نشه يي مواد حرام گڼي او دمخدره موادو او كوكنارو داستعمال او توليد اجازه نه وركوي. نومړي دامريكي غږ سره په مركه كي وويل: دطالبانو تر كنترول لاندي سيمو كي دمخدره موادو چې څومره كار او سوداگري پخوا كيدله په هغي بشپړ بنديز لگيدلي دي اوس په دغو سيمو كي نه څوك كوكنار كري او نه يې كار اوسوداگري كوي.

مولوي وكيل احمد څرگنده كړه: مور د[illegible] هيروئينو ټولي كارخاني تړلي دي او دمخدره موادو دقاچاق دمخنيوي له پاره مو هم پاخه گامونه اخستي دي.

ده وويل: دطالبانو دټولو كوششونو سره سره اوس هم دافغانستان په ډيرو برخو كي زيات كوكنار كرل كيږي خو ددي كرونډو مخنيوي هغه وخت ممكن دي چې (٤ مخ)

دننگرهار داچين په ولسوالي كي تخريبكار رحمت الله ونيول شو

دننگرهار ولايت له اچين ولسوالي څخه زمونږ خبريال خبر راكوي چې دهغه ولايت ديو شمير پخوانيو قومانداناتو په لمسون رحمت الله دطالبانو له سپيني جنډي څخه په استفادي سره غوښتل په ولسوالي كي وگرزي او خلك دي ته وهڅوي چې دطالبانو اسلامي تحريك ته له وسلو وركولو څخه انكار وكړي.

خبريال وايي داچين ولسوال ښاغلي غلام نبي هاشمي ددغه تخريبكار او ورانكاري دنيولو هلي ځلي پيل كړي تر څو دعقرب په ۱۳ نيټه په داسي حال كي ونيول شو چې داسلامي دولت پر خلاف يې فعاليت كاوه.

دغه ورانكاري دتحقيق په جريان كي وويل چې ماته حاجي عبد الحليم، مامور محمد عيسى، حاجي سلطان، حاجي اختر، حاجي شيراز، نوشير خان، (٤ مخ)

ددو آبي دناريابو په كمپ كي دغونډي دبرخه والو وېناوي:

مور دطالبانو داسلامي تحريك په مشرۍ داسلامي دولت تر څنگ ولاړ يو

يوازي اسلامي نظام او اسلامي قيادت كولاي شي چه مور ته له راپيښو مشكلاتو څخه نجات راكړي

دتيري سه شنبي په ورځ دنومبر په پنځمه نيټه ددوآبي دناريابو په كمپ كي ديو شمير كمپونو دمهاجرينو په گډون يوه درنده او پرتمينه غونډه جوړه شوه. غونډه دسهار په اتو بجو دعظيم الشان قرآن دڅو مباركو آيتونو په تلاوت پيل، او دغرمي تر دوولسو بجو پوري روانه وه ددي (۳۵) تنو عالمانو، قامي مشرانو او قومانداناو دهيواد دروانو حالاتو په اړه گټوري او هراړخيزي خبري وكړي.

دوي پخپلو خبرو كي وويل: مور په هيواد كي دطالبانو داسلامي تحريك په (٤ مخ)

دوستم به جريده شرق الأوسط گفته است:

حكمتيار وسياف از صحنه سياسي ونظامي خارج گرديده اند

ما حكومت سابق رباني را به رسميت نمي شناسيم
لازم است تحولات اخير سياسي ونظامي را مهم دانست

رشيد دوستم رئيس شوري تام نهاد دفاع افغانستان گفته است كه گلبدين حكمتيار رهبر حزب اسلامي ورسول سياف رهبر اتحاد اسلامي افغانستان از صحنه هاي سياسي ونظامي خارج گرديده اند.

دوستم در مصاحبه اي با (ص٤)

در نايجريا به اثر سقوط طياره ۱٤۰ تن هلاك گرديد

طبق اطلاعات واصله يك طياره بوئينگ نايجريا هنگام پرواز درفضاي داخلي آنكشور سقوط نموده است. درين سانحه تمام راكبين طياره مذكور كه تعداد شان به يكصدوچل نفر ميرسيد هلاك گرديده اند. منابع خبري ميگويند در مورد علت سقوط اين طياره تحقيق جريان دارد

بشري حقونه او دملگرو ملتونو ... (۲) مخ

دشريعت تبصره (۲) مخ

جهاد له شخصي گټو ... (۲) مخ

[illegible] (۲) مخ

مفهوم عبادات در اسلام (۳) مخ

دادب ملغلري (۳) مخ

په افغانستان كي داسلامي ښوونې ... (۳) مخ

دولت اسلامي افغانستان طوريكه نميخواهد در امور داخلي ديگران مداخله كند هم چنان به ديگران نيز اجازه نميدهد كه در امور داخلي اش مداخله نمايد

شریعت

دامتیاز خاوند : دافغانستان دطالبانو اسلامي تحریک
دتأسیس کال : ۱۳۷٤ هـ ش
: د لیکوال هیئت ترکتنې لاندې
مسئول مدیر : مولوي احمد جان
تیلیفون : ۸٤۰۳۷۸
آدرس : په پېښور کې دطالبانو داسلامي تحریک نمائندګي
دیوې ګڼې بیه : په هیواد کې (۵۰۰) افغانۍ
: په پاکستان کې (۳) کلداري

سرمقاله . . .

یا اوښتون دپاره جهاد او مبارزه کوي او نه غواړي په داسي یوه روایتي بین المللي عنعنوي حکومت باندي قناعت وکړي چې ټول اداري چوکاټونه سیاسي اصطلاحات، دبین المللي اړیکو غربي یا شرقي چاپلونه یې دکوم استعماري هیواد له خوا ورته برابریږي او دوي یواځې دهغو اړیکو او اصطلاحاتو په چوکاټ کې دننه تیاري شوي بیانیې لولي چې نړۍ ئې سمدستي یې له کوم درنګه په رسمیت پیژني وریسي داستعمار دا قسارو هیوادونو له خوا په تلوار سره ورته دمبارکي پیغامونه مخابره شي، ځکه د طالبانو اسلامي تحریک نه پکار دي چې دخپلو نظامي عملیاتو تر څنګ خپل داسلامي انقلاب او اوښتون درامینځ ته کولو دپاره داسلامي شریعت په رڼا کې داسلامي سیاست، اسلامي اقتصاد، اسلامي ټولنې، اسلامي اخلاقو، اسلامي تعلیم او تربیې، اسلامي ډیپلوماسي، اسلامي ملي او بین المللي اړیکو او داسلامي دولتي او بین المللي حقوقو دخپرولو او متعارف کولو دپاره انقلابي اقدامات وکړي، نړۍ ته عملا وروښیي چې زموږ انقلاب په ټوله معنی یو اسلامي انقلاب دي چې ساري یې نه په شرقي سوسیالستي نظامونو کې لیدل کیږي او نه خو په غربي لیبرالو کاپیټالستي سستمونو کې په سترګو کیږي، بلکي دا هغه انقلاب دي چې څوارلس سوه کاله مخکې یې دوه نړیوال ستر ځواکونه را په ګونډو کړي ؤ، ورو ټولنو او بې وسه ملتونو ته یې ددوي له ظلم، استبداد او استعمار څخه نجات ورکړي ؤ نن به هم همدغه اسلامي انقلاب دنړۍ مظلومو او مستضعفو ملتونو ته له شرقي او غربي استعمار څخه نجات ورکوي.

خو دا انقلاب په هغه وخت نړیوال حقیقت ګرځي چې زموږ انقلاب یواځې په نظامي عملیاتو کې منحصر نه شي او داسلامي تحریک قیادت دعمل په میدان کې دانقلاب ټولو برخو او اړخونو ته توجه وکړي، او په دې هکله ګړندي انقلابي، ګامونه واخلي د«انما المؤمنون اخوة» له روحي سره سم ټولو بیدارو، خبیرو او پوهو باتقوی مخلصو مسلمانانو ته داسلامي انقلاب په چوکاټ کې په دولتي اوولسي سطحه دکار کولو فرصت او موقع برابره کړي، څو له یا دروه او یا درکه اشخاصو څخه په صحي معنی کار واخستل شي، دغیر اسلامي او اسلامي سیکولر هیوادونو دپوچو، بې ځایه تبصرو او تنقیدونو په مقابل کې عالمانه اسلامي او قرآني هغه قاطع او ځلانده برهان په کار واچول شي چې دخداي بر حق پیغمبر محمد صلی الله علیه وسلم به خپلو مخالفینو ته په زغرده ویل: (قل هأتو برهانکم) دطالبانو اسلامي تحریک چې دواقعي اسلامي انقلاب غوښتونکي دي باید عملاً داسلامي دین جامعیت او حقانیت دسیاست، اقتصاد، اجتماع، ساینس،او تخنیك او ملي او بین المللي نظم او نسق په میدان کې نړیوالو ته وروښیي او ثابته یې کړي.

د شریعت تبصره

سوله او آرامي دوخت مهم ضرورت دي

اسلام دسولې او آرامي دین دي، اسلام دعدل او برابرۍ دین دي، اسلام دمینې او ورورولۍ دین دي او اسلام دپرمختګ او ابادي دین دین، دغه آسماني دین چې مهربان خداي جل جلاله دخپل نازولي پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم په واسطه دخپلو بندګانو دورځني ژوند دسمون او په ژوند کې دمثبت تحول دراپیداکیدو په غرض را لیږلي آن دهغې لومړي ورځي څخه انسان ته دآنسان په توګه دځان دپیژندلو درس ورکړل شوي او هغه لار ورته په ښه شوي ده چې دهغې په خپلولو سره نه یوازي دخپل ورځني ژوند دسمالښت په اړه بلکي دټولنیز ژوند دبهبود او ګټورتوب په ارتباط بې شمېره لار ښوونې او ارشادات لري.

اسلام دبشریت لپاره دسولې او ارامي پیغام راوړ، اسلام دخداي جل جلاله بندګانو ته دعدل او برابرۍ درس ورکړ، اسلام مسلمانانو او په عامه توګه انسانانو ته دمینې او ورورولۍ لارې چارې وروښودلي او اسلام بشریت ته هغه لار په ښه کړه چې په هغه کې دانسان ترقي او پر مختګ، انکشاف او تکامل پروت دي ځکه خو نو تر بل هر چا مسلمانان دسولې او ارامۍ، عدل او برابرۍ، مینې او ورورولۍ او پر مختګ او ابادۍ په اړه ځانګړي پروګرامونه اوځانګړي لارې چارې لري.

چیرې چې سوله وي هلته خلك په ډاډه زړه خپلي ورځنۍ چارې پر مخ بیایي، دنړۍ پر مخ سوله ایزې ټولنې دخپلو انکشافي پروګرامونو لپاره ډېر ښه او غوره امکانات په لاس کې لري، ځکه خو نو اسلام هم تر بل هر څه زیات په سوله او امنیت ټینګار کوي او خپلو پیروانو ته سپارښتنه کوي چې دخپل ټولنیز ژوند دسمالښت لپاره پخپل چاپیریال کې دسوله ایز ژوند شرائط برابر کړي او په دي توګه دسولې او امنیت په فضا کې هغه څه تر لاسه کړي چې دټولنیز ژوند دترقي او پر مختګ لپاره لازم دي.

افغاني ټولنه یوه مسلمانه ټولنه ده، ددي ټولني هر وګړي دزړه له اخلاصه اسلام منلي دي ځکه خو یې نو دتاریخ په اوږدوکې وخت په وخت دکفر او الحاد په مقابل کې دهر ډول قرباني میدان ته ور دانګلي دي، دظلم، فساد او ځان غوښتنې په وړاندي را پورته شوي او هیچا ته یې اجازه نه ده ورکړي چې دغه مسلماني ټولني امنیت او استقرار له منځه یوسي او ددوي دپرمختګ او انکشاف مخه بنده کړي، چې، دهمدغه اصل له مخې کله چې په هیواد کې کمونستي رژیم را وپرزیدو او پر ځاي یې داسلامي نظام په نامه یوه اداره جوړه شوه نو زموږ مسلمان هیوادوال په دي تمه وو چې اوس به په هیواد کې امن او استقرار راځي او بیا به دهمدغه امن او استقرار په رڼا کې خپل په کنډوالو بدل شوي هیواد بیا ودانوو. خو چې دملت دغې غوښتنې ته مثبت ځواب ونه ویل شو، نو دملت له منځ څخه دطالبانو اسلامي تحریک سر را پورته کړ.

دطالبانو اسلامي تحریک دتحریک دپیل له هماغې لومړۍ ورځې څخه په هیواد کې دامن او استقرار دمنځ ته راوړلو لپاره لیچې را پورته کړې او دهمدغه مقدس شعار په سیوري کې قدم په قدم مخ په وړاندې روان و، دغه اسلامي تحریک په هیوا کې داسلامي نظام داستقرار په غرض تر هر څه دمخه په وطن کې سولې او امن ته دلومړیتوب حق ورکړي او هري سیمې، هر کلي، هري ولسوالۍ او هر ولایت ته چې رسیدلي خپلو مسلمانانو خلکو ته یې دسولې او ارامۍ پیغام وړاندې کړي او له هغوی څخه یې غوښتي دي چې پخپلو کې لانجې او مشکلات ختم کړي او پر ځاي یې ورورۍ او محبت ته ځاي ورکړي تر څو په دې توګه دژوند دپرمختګ لپاره مؤثر امکانات تر لاسه کړي.

دطالبانو اسلامي تحریک ټولو وسله والو قوتونو ته په وار وار ویلي دي چې اوس زموږ جګړې ځپلي او په کنډواله بدل شوي هیواد سولې او امنیت ته ضرورت لري داځکه موږ په جنګ عقیده نه لرو او په دي پوهیږو چې دوطن دتباهۍ او بربادۍ عامل یوازې یوازې جنګ او جګړه ده، نو ددي لپاره چې موږ وکولاي شو خپل عمراني او عرفاني پروګرامونه په پوره حوصله او پوره ډاډ پر مخ بوزو نو تر هر څه دمخه سولې او ارامۍ ته ضرورت لرو.

اوس زموږ هیوادوال له جګړو څخه ستړي شوي دي او نه غواړي چې تر دې زیات دجنګ او جګړو په لمبو کې ولوېږي، نو ښه ځل بیا دطالبانو اسلامي تحریک له ټولو جګړه مارو قوتونو څخه خپله پخوانۍ غوښتنه بیا نوي کوي چې حق ته په غاړه ایښودلو سره له جګړي څخه لاس واخلي او دافغانستان اسلامي دولت ته دخپلو عمراني او عرفاني پروګرامونو دپرمخ بیولو لپاره موقع ورکړي ترڅو په دې توګه داسلام دمقدسو اصولو په رڼا کې ټولې هغه لارې چارې عملي کړي چې په ورځني ژوندکي مسلمانان ورته ضرورت لري.

دملګرو ملتونو مؤسسې ته یوه تنقیدي کتنه

بشري حقونه او دملګرو ملتونو دوه مخي

مولوي عبدالحکیم «مجاهد» — شپاړسمه برخه

٦- په لبنان کې داسرائیلو هڅونه.

لبنان نږدې پنځه زره کلن تاریخ لري، دلته سامي، کنعاني، غرامي، ارامي، رومي تمدنونه تیر شوي دي چې وروستی یې اسلامي تمدن ؤ. لبنان تر لومړي نړیوالي جګړي پوري دعثماني خلافت برخه وه چې دجګړي په پایې کې شام او لبنان دواړه دفرانس تر اداري لاندي راغلل، په ۱۹۲٦م کې لبنان فرانسویانو جمهوري هیواد اعلان کړ خو خپلواکي یې ورنکړه، او په ۱۹٤۱م کال کې فرانس لبنان ته بشپړه ازادي ورکړه، که څه هم دفرانسي فوځونه بیا هم په لبنان کې وو. په ۱۹٤۳م کال کې دمسلمانانو او عیسایانو تر منځ دسولي معاهده وشوه او بیا عامي ټاکني وشوي چې په نتیجه کې یې «ریاض اصلح» دهیواد صدر اعظم وټاکل شو.

په لبنان کې مسلمانان دهیواد ۷۵٪ نفوس تشکیلوي او نور یې عیسایان او دروز قبائل دي چې زیاتره تاریخ یې په خپل منځي شخړو او جګړو کې تیر شوي دي. عیسایان دتل دپاره دلویدیځ په خدمت کښي پاتي شوي دي او په مذهبي جګړو کې یې دمسلمانانو په خلاف عیسایانو ته دجاسوسي کارونه کړي او هم یې دجګړي په وخت کې صلیبیانو ته فوځي دلګي برابري کړي دي.

په ۱۹۵۸م کال کې دکورني جګړي په ترځ کې دعیسایانو دیوه مشر کامل شمعون په غوښتنه دامریکي فوځونه لبنان ته داخل شول، او په ۱۹۷۵م کې یو ځلي بیا کورني جګړه پیل شوه چې داخلي اسرائیلي حکومت په کې لاس وهنه پیل کړه او تورن سعد حداد یې له ځانه سره ملګري کړ چې هر ډول فوځي مرسته یې ورته برابره وله څو په عربانو باندي فشار واچوي چې دفلسطین دمسلمانانو له ملاتړ څخه لاس واخلي.

تورن سعد حداد دمرکزي حکومت په خلاف بغاوت وکړ او دجنوبي لبنان ازادي یې اعلان کړه، په لبنان کې دکورني جګړي اصلي عامل اسرائیلي حکومت دي چې نه غواړي په لبنان کې دي یو متحد مرکزي حکومت موجود وي، اسرائیلو دحداد په واسطه جنوبي لبنان تر خپلي ولکي لاندي راوست.

په لبنان کې فلانجي عیسایان داسرائیلو ګوډاګیان چې امریکایان یې په مالي او سیاسي توګه مرسته کوي دفلسطینیانو سخت مخالف دي او دفلسطینیانو په مقابل کې جنګیږي چې مسلمانانو یې دتل دپاره مقابله کړي او لبنان یې له تقسیم څخه ژغورلي دي.

بشیر جمایل چې دفلانجي ګوند دموسس پیري جمایل زوی ؤ، داسرائیلو او امریکا دحکومتونو په نظامي ملاتړ دلبنان جمهور رئیس وټاکل شو څو په لبنان کي داسرائیلو دجنوبي ګوډاګي حکومت را مینځ ته کړي. بشیر جمایل سخت مذهبي متعصب او دمسلمانانو سخت دښمن ؤ، اسرائیلو ته یې بلنه ورکړه چې فلسطینیان له لبنان څخه وباسي، دبشیر جمایل پلار چې دمسلمانانو سخت دښمن ؤ، بشیر جمایل یې دمسلمان دښمنۍ په دفلانجي ګوند مشر وټاکل او خپله یې له مشري څخه استعفی ورکړه. فلانجي ګوند له ۱٦ زره څخه زیات جنګیالیان لري چې داسرائیلو له خوا هر ډول مالي او نظامي مرسته ورسره کیږي.

دبشیر جمایل دښمنان ډیر ؤ په مسلمانانو یې سربیره سلیمان فرنجي هم دبشیر جمایل سخت دښمن ؤ چې دخپل زوی، زوم او لمسي دوژلو په تړاو یې دبشیر جمایل دوژلو ژمنه کړي وه، بشیر جمایل دجمهور رئیس کیدو نه وروسته په اشرفیه کې دسپتمبر په ۱۵، ۱۹۸۲م کال کې دخپل ګوند عالي شوري ته وینا کوله چې دبم چاودنه وشوه او بشیر جمایل په کې مړ شو. دعیسایانو په مینځ کې آوازه خپره شوه چې هغه مسلمانانو مړ کړ خو ډیر ژر څرګنده شوه چې دا دعیسایانو خپل کار ؤ دفلسطین دآزادي مشر یاسر عرفات ددغي وژنې څخه انکار وکړ او وې ویل چې دا کار اسرائیلو کړي دي څو په لبنان کې دخپلو نظامي عملیاتو بهانه پیدا کړي.

امریکایانو دخپل نماینده فلیپ حبیب په واسطه فلسطیني فدائیین له لبنان څخه وایستل. فلیپ حبیب له اسرائیلو څخه وعده تر لاسه کړې وه چې دفلسطیني فدائیانو تر وتلو نه وروسته به لویدیځ بیروت چې دمسلمانانو سیمه ده حمله نه وربانندي کوي. او داچې دفدائیانو دخپلوانو به حفاظت کیږي، اسرائیلو دا وعده هم کړي وه چې دبیارله نښي لیکې څخه به نه تیریږي او د وتلو په وخت به په فدائیانو باندي حمله نه کوي.

خو لا تر اوسه دفلسطیني فدائیانو دوتلو پروسه روانه وه چې اسرائیلي حکومت لویدیځ بیروت ته خپل فوځونه دسولې او امنیت په پلمه ولیږل او دمسلمانانو سیمه یې اشغال کړه او ورسره ورسره یې دوه ورځې وروسته دبشیر جمایل په وژنه پسي سمدستي دفلسطیني مهاجرینو دوه کمپونه صابره او شتیلا محاصره کړل او پلمه یې کوله چې دلته وسله پټه ده. له دي نه وروسته سمدستي دتورن سعد حداد دوه سوه عیسایي فوځیان صابره کمپ ته او دوه سوه نور شتیله کمپ ته ننوتل او ویل به یې دغه لومړي ځل دي چې موږ ته دعامي وژني موقع په لاس راغلي ده چې دسعودي پاچا فهد له وینا سره سم ... زره فلسطیني مهاجرین یې ووژل او په مسلمانانو باندي یې محشر جوړکړ، ځني سر چینې وایي چې خپله اسرائیلي فوځونو دتورن حداد دفوځونو وریشي ګالي الغوستي وې او دفلسطیني مهاجرینو په عامه وژنه یې لاسونه پوري کړي وو، دتورن حداد ملیشي اسرائیلو ته په جنوبي لبنان کې داشغال موقع برابره کړه او دهغه په بدل کې یې له اسرائیلو څخه هر ډول مرستې ترلاسه کړي، داهم ویل کیږي چې دتورن حداد فوځ بشیر جمایل ته اختیار ورکړی ؤ، چې که دي له اسرائیلو سره دسولي معاهده لاسلیک نه کړي نو دوي به دده په خلاف عملیات پیل کړي. دغه ملیشه له مسلمانانو سره سخته دښمني لري او ددوي له کبله تر اوسه په لبنان کې یو مستحکم مرکزي حکومت نه دی را مینځ ته شوی.

اوس پوښتنه داده چې لبنان خو دملګرو ملتونو په سازمان کې یو آزاد او خپلواکه او مستقل هیواد دي دملګرو ملتونو دمنشور له مخې هیڅ هیواد حق نه لري چې په دغه هیواد باندې حمله وکړي، او یا هلته فوځونه ولیږي او یا د دغه هیواد په داخلي چارو کې څوک مداخله وکړي. او ددغه هیواد خلک هم انسانان دي، بشر دي، دملګرو ملتونو دبشري حقونو داعلامیې له مخې خو ددوي آزادي باید سلب نشي او دوي په ناروا باندي ونه وژل شي، خو موږ ولیدل چې:

- اسرائیلو جنوبي لبنان اشغال کړ او دلبنان په پلازمینه لویدیځ بیروت کې یې خپل فوځونه ننویستل، او ملګرو ملتونو داسرائیلو په خلاف لکه په عراق باندي نظامي عملیات تر سره نکړل او داسرائیلو په خلاف یې اقتصادي محاصره ونه لګوله.

- دلبنان خلک انسانان دي، بشر دي هغوی یې په زرهاؤ ووژل او باندي ووژل خو ملګرو ملتونو دبشري حقونو دساتني دپاره تر اوسه پوري کوم عملي ګامونه نه دي اخستلي داسرائیلو دحکومت په خلاف یې دتبلیغاتو لړۍ نه ده روانه کړي بین المللي موسساتو هلته خپل فعالیتونه نه دي بند کړي بلکې ددي پرعکس داسرائیلو حکومت دعربانو په خلاف تیري کولو او بد معاشی کولو ته لورهم هڅول کیږي او غربي هیوادونه ورسره هر ډول مرستي کوي. لویدیځ هیوادونه په همدي ډول غواړي چې په افغانستان کې هم له دوستم څخه دتورن سعد حداد کار واخلي او دمرکزي حکومت په خلاف لکه دعیسایانو رول تر سره کړي، بري نږدې چې په افغانستان کي یو مضبوط مرکزي اسلامي حکومت دمسلمانانو په لاسونو باندي جوړ شي.

داوايي څه ؟ او کوي څه ؟

مسلم سلطاني

په دي وروستیو کښي تهران دافغانستان په هکله دیوه سیمه ییز کانفرانس کوربه و؟ ایران په ظاهره داسي چیغه ګډه کړي وه چې «دسیمې ټول هیوادونه دي دافغانستان په اړه ګډ دریځ خپل کړي او داسي ګامونه دې واخلي چه په دي هیواد کښي جنګونه او خارجي مداخلې بندې شي؟»

خو، په دې کنفرانس کښې له یوه پلوه داسي هیوادونو دګډون په شمول ګهون کړي وو چې مستقیماً ئې په افغانستان کښي مداخلې کړې او کوي ئې؟

له بله پلوه دکنفرانس له رخصتیدو سره سم ئې دهوایي لیاري په الوتکو کښي داسمعیل خان هغه فراریان چه په ایران کښي ورته دترورستي تربیت ورکول کیدو سم دلاسه ئې دفاریاب ولایت مرکز میمني ته راوړل ترڅو ددوستم له ګلم جم ملیشو سره دطالبانو داسلامي تحریک پر خلاف وجنګیږي که وکولاي شي چې هرات بیرته ونیسي ؟!

تر څو په دي ترتیب دایران، هند او روس هغه جوړشوي نظامي مثلث په افغانستان کښي ددې جرګه کړي چې ددوی هغه اقتصادي او سیاسي کښي ورته وسائل چې ددوي لی خوبونه وپلي.

اوس دې خوازه لوستونکي دافضاوت وکړي چه ایران وایي څه ؟ او کوي څه؟.

تهران له یوه پلوه د ډیپلوماسي ډول غاړي ته اچولي کله ئې په تاشکند او دوشنبه کښي غربوي او کله ئې په مسکو اونوي ډیلي کښي.

او له بله پلوه بیا په دې هیوادونو کښي دشریکلي او سفوري اداري دبیا راټولولو مخي کوي تر څو دغوي یګښتوي ملشي بیا تنظیم کړي او په دي اړونه ایران داسي لالهانه منهي تروي وهي لکه خپل سول شوي پولځیان چې له عراق څخه را خلاصوي؟!!

ایران په دا ډول ویلو او کولو سره په سیمه کښي خپل ځان او نفوذ ته غټه زیان رسولي دي. په داسې حالکښې چې ایران له یوه پلوه ځان په نړۍ کښي داسلامي انقلاب مشعر ګڼي؟ او له بله پلوه له روس څخه ازاد شوي ریاستونه بیرته دروسانو په منګولو کښي ښکار کول غواړي ؟!

ایران دا هر څه دخپلي خیالي او ګومانی ګټي لپاره په داسي وخت کښي تر سره کوي چې له یوه پلوه په افغانستان کښي دطالبانو داسلامي تحریک دقربانیو په برکت پاټلي سالاري او ملوک طوائفي حکومتونه ورانو شوي، او له بله پلوه په افغانستان کښي دخارجیانو تر حمایت لاندي ډلګي ئې په بشپړ ډول منځ په ورکیدو کړي دي. که داسي وشي نو په افغانستان کښي به یو واحد مرکزي ملي حکومت مینځ ته راشي او هم به دمینځنۍ آسیا دهیوادونو لپاره دښمنوي سیاسي او اقتصادي ازادي لاره خلاصه شي.

په دې صورت او تشکیل کښې ایران خپل اقتصادي او سیاسي زیان ګوري او هغه په دي مفهوم چې ایران به له برخي څخه بې برخي او ګوښه کړاي شي. په‌تیره بیا پداسي حالکښي چې ایران له عربي نړۍ سره هم په ښه نسبی او کینه کښي لګیا دي ځکه ئې هغه لوري ته هم لاري چاري محدودي دي.

په داسي حالکښې ایران نه غواړي چې په افغانستان کښي یو خپلواك مرکزي حکومت را مینځ ته شي بلکه تهران هر وخت په افغانستان کښي دیوه داسي مقطعي سیاست لټون کړي چه لویدلي او ضعیف لوري ئې دومره را جګ کړي چې دجنګ او جګړي موازنه برابره وساتي تر څو دمینځنۍ آسیا په خښره لیار د«افغانستان» کښي جنګ نور هم شعله ورکړي او په غربي لیار «ایران» کښي امنیت بر قرار وساتي تر څو دمینځنۍ آسیا په لار او دروازه په دوي خلاص پاتي شي.

دایران دا ډول مقطعي کړنلاره په دي تیرو څو کالو کښي ډیره ښه څرګنده شوي او هم پوهو هیوادوالو ته داجوته ده چې حزب وحدت یعني څه ؟ او څنګه ؟ بیا دغوي لومړي ایتلاف له مسعود سره ؟ بیا له حکمتیار سره ؟ او بیا هم خپله ایران له مسعود او رباني سره دومره نږدې شول ان چې حزب وحدت هم وربانديې باوره شو چه څنګه دحزب وحدت له قاتل سره یو ځاي او دومره نږدې شو چه دایران نفوذ په باسیانو او دحزب وحدت په ډله کښي ډیر کمزوري شو ؟.

ان تر دي چه دماهیپر تړون هم تهران دخپل ځان شاهکاري ګڼله او روسانو هم خپل رضایت ځکه څني ښکاره کړ چه ایران کښي منځګړي او دا تړون ددرباني مسعود په ګټه و.

ان تر دي چه تهران په ډیر لنډ وخت کښي دماهیپر تړون دځینو په نظامي تړون چه په دي تړون کښي دروسانو رول کلیدي حیثیت لري او تهران دا تړون هم دخپل ځان لپاره غټه بري وګڼله او نږدې چه دحزب وحدت وپاله په څرګنده دحکمتیار به بې اهمیتي ټاپه ولګوله.

ایران لا اوس هم په دي هر څه نا خوالو سترګي پټوي ځان بوسټکري د روټي جوړي داعي او بلونکی ګور به ګڼي ؟!!

له دینه لږ وړاندي که وګورو چې ایران دافغانستان په جهاد کښي له روسانو سره څنګه پټه انهوالي وکړه؟ او دا چې ولي ئې دا کار وکړ ځکه چه ایران په څرګنده له امریکا سره ژبه اړولي او دغوي په پرتله ئې روسي ته زیاته ترجیح ورکوله او له روسانو سره ئې دامریکا په دښمني کښي قول کړي و.!

او په دي لیت ئې له روسانو څخه خپلي تیمکرتیا وي پوره کړلي. اوس لا هم هغه قرار دادونه پرځاي دي چه دمظلوم افغانستان په خاوره ئې دجګړي لمبې ګرمې کړي او خپلي ډوډۍ وربانندي پخوي؟!

لا چیغه ئیهم دادي چې «دسیمې ټول هیوادونه دي دافغانستان په اړه خپل دریځ شریک کړي» دا په دي مفهوم چې له دوي سره دي هم نظره شي تر څو دجنګ جګړو ولړۍ دومره دوام وکړي چې دوي وکولاي شي په دي جنګ جګړو کښي خپلي سیاسي اقتصادي او نظامي ګټي تر لاسه کړي.

دایران له دا ډول دوښتنه کړو وړو څخه هر څوك خصوصا افغانان ډیر ښه خبر او ښه پوهیږي چه دا وایي څه ؟ او کوي څه؟.

جهاد له شخصي ګټو څخه چاقربان کړ؟ او اوس یې له انحراف څخه څوك ژغوري؟

ش. ق. «بې وزله»

دوه مخي او تش بې عمله شعاري نظامونه او قیادتونه چې معمولاً دفیوډالزم، کاپیتالزم او مادي استعماري او مصلحت خوښوونې دغولوونکو دسیسو تر تاثیرلاندي راغلي او له انقلابي مرحلي نه ورو ورو داشرافیت او تجمل استکباري مرحلي ته داخلیږي، خپل اسلام انقلابي خصوصیات او ځانګړتیاوي له لاسه ورکوي او دانحراف [illegible] کوي، دتاریخ په اوږدو کې [illegible] ګرځیدلي دي، داسلامي ولسونو دانقلابونو په انحراف کې یې بې وبرالیزمن رول لوبولي دي. دافغانستان دمسلمان ملت اسلامي جهاد او اسلامي انقلاب چې دنونیم میلیون شهیدانو په قربانیو او دزیاتره هیواد په تباهۍ او دربدریو دکډوالۍ پړاونه نږدې شوي و، دانحراف په هغه لمده بندرګه ... او ملت یې له بې شمېره کړاونو سره مخامخ کړ چې دنجات او ژغورنې افتخار او ویاړ یې په رښتیا سره دطالبانو داسلامي تحریک په برخه شوي او اوس دبریالیتوب پړاونه وهي، په دغه مقاله کې دپورتنیو حقایقو په رڼاکي څېړنه شوي ده.

دافغانستان اسلامي جهاد او اسلامي انقلاب چې ډېرې بې وزلي او کمزوري په حال کې پیل شو نه یې افرادي ځواک درلود او نه اقتصادي براخۍ په لوی خداي جل جلاله باندي تکیه، ایمان، تقوی، صبر او ایثار دجهاد او مبارزي ستره سرمایه وه چې ډیر وګړي دډاډ او اطمینان بې ساري نه ماتیدونکي وسله وه، جهادي قیادتونو او شخصیتونو ورځ په ورځ دمسلمانانو په زړونو کې دمحبوبیت مېنه جوړوله، خو دغه وضع تر اخره پورې په خپل حال باندي پاتې نه شوه، ډیر ژر داستعمار دمادي نعمتونو جالونه ددوي په شا وخوا کي خپاره شول او ... بې وزلي، صبر او ایثار هغه حالت چې ... شوري پېښي ... په اساس ... پروګرامونه به دایمان او تقوي په تشنې تر سره کیدل، دمادیت اشرافیت او استکبار په منحرفه فضا باندي بدله شو، دایمان او تقوی په ځاي دملګرتیا معیار پیسه او وسله وګرځیده، دنیکو او صالحو افغانانو ځاي فاسقانو، فاجرانو، غلو او لوټمارانو ونیو زموږ انقلاب له پري نه مخکې منحرف او داستکبار مرحلي ته ورسیده، په دې لیکنه کې دجهاد دوروستیو کالونو جریانانو ته اشاره شوي ده چې جهادي شخصیتونو څومره مشغله سیادتونه غوره کړي او جهاد یې له انحراف سره مخامخ کړی دی. نو موږ یې کټ مټ خپروو. (اداره)

په افغانستان کې دسره پوځ دنظامي او عسکري ماتي او له هه هیواد څخه دهه دوتلو څخه وروسته دافغاني جهادي قیادتونو او شخصیتونو تر منځ په ملکونو داخلي او خپل منګد ... جګړي را مینځ ته شوي او په زر ګونو پاکي اروا ګاني ددغو جهادي شخصیتونو دبیلا بیلو اهدافو لپاره قربان شوي.

دسره پوځ له وتلو سره سم پر مسلمانانو زیري وشو چې جهادي قیادتونه دخپلو تنظیمي ارګانو سره دپاکستان دراولپنډي په ښار کې سره را ټول او له هوا څخه دباندي دیو لنډ مهالي حکومت او دیو لړ منابعو په وشلو ... دغه زیري په اوریدو سره سم دمسلمانانو په زړونو کې دخوښۍ ... په څیر شو، خو ډیر وخت لا نه ؤ تیر شوي چې شاغلي حکمتیار صیب له متحد صف څخه پښې ؤ ویستي او نوروهم داختلاف د اور په دغه خور لن کي لرګي ووهل.

په همدغو شپو او ورځو کې یو بل زیري راغي چې افغانستان له خیبر سره ازاد شو دکفر او الحاد کمبله ټوله شوه او جهاد دبري پړاو وواهه له دي سره سم د۱٤۱۲هـ سپوږمي کال دلسي میاشتي په ۲۲ نیټه جهادي قیادتونو او شخصیتونو په پېښور کې دخپلي اتفاقیې په نتیجه کې داسلامي حکومت دتشکیل په باب إعلان هم خپور کړ، دایو داسي زیري ؤ چې نږدې ؤ دمسلمانانو زړونه له خوښۍ څخه او دکفاروزړونه له غم څخه ترك وچوي. دغه خوښي یواځې پر مانه وه بلکه هر مسلمان دخوښیو په جامو کې نغښتل شوي و.

الله زما په خبره شاهد دي چې تر دغه وخته پوري زما انګل ددغو په اصطلاح جهادي شخصیتونو په نیت دخبرو.

دازادي ددغه عزیزه خبرولو سره زما په څیر ساده مسلمانانو په دارالهجرت کي خپل متملکات په ارزانه بیعه وپلورل، ماهم کولنګ او تسکوري ته لاس کړ او دمسوایي دکیمپ دهجرت خونه مي ګړه وړه کړه او لهاري مي بې دسون دلرګیو په بیعه وپلورل به دي نیت چې وطن دفتنې او فساد، کفر او الحاد څخه ازاد شوي دبیرته تلونکو مهاجرینو په تلو دبولان او خیبر ددرولوني لارې په قافلو ؤکي شوي او هیواد ته دتلو مسابقه پیل شوه هر چا هڅه کوله تر څو خپل پلارنی ټاټوبي له بل هر چا څخه تر مخه ووېني، زړونه په دي هیله چې مقدس جهاد دقرآن

(٤ مخ)

این طیاره از خود حضرت علي است (!)

سهیل شوري

ځو میاشتي وړاندي چې افغانستان پرستونی دجنګ، پر بریت او فر عونیت پدرنګه خپسه تاسته وه یو ژورنالست ملګری مي جلال آباد ته تللي و. ما پوښتنه تري وکړه چې څه دي ولیدل؟ ژورنالست ملګري مي دترخي خندا په څیوکي راته وویل:

- څه سر به مي خوږ وي ډیر داسي څه مي ولیدل چې نه دلیدلو دي او نه د اوریدلو. ما ورته وویل: خیر دي ډیر څه راته مه وایه خو دمشت نمونه خروار په مصداق خوراته یو څه و وایه! ژورنالست ملګري مي سوړاسویلي وکیښ او راته وي ویل: - زه دجلال آباد هوایي ډګرته لاړم په ډګر کی ګڼي الوتکي ولاړي وي. په زړه کي مي په ډیر ریاړ راوګرځیدل: چه خداي مهربان دي ګوندي یو نه حکومت راشي دادي دومره ډیري الوتکی لرو په دي خوږو خیالونو کی دالوتکو خواته ورنږدي کیدم کله چه دالوتکو وزرو لاندي تیریدم دغوڅو لښتګو او نیښترو بر خوږ بوي را باندي ولګیده. زه ډیر حیران شوم چې دا څنګه له الوتکو نه دلښتګو او نیښترو بوي راځي؟ کله چې دالوتکو دوزرو او کړکیو خواته ورنږدي شوم څه ګورم چې ټولي الوتکي له غوڅو لښتګو اونښترو ډکي دي. داچار تراش یا لګل بې داغسه او بې حسابه دي. زه په زړه کی ډیر خپه شوم. ساوي چې دا به هره ورځ دوطن دځنګلونو په سلګو تو سکلي لښتګي، صنوبر، نیښتر او نوري ونې غوڅیږي او پردیو بازارونو ته به ځي. په دي چوړتونو کی دالوتکي پر تندي يوي لیکلي جملي ته ګیر شوم. دالوتکي پر تندي لیکل شوي جمله داسي وه: «این طیاره از خود حضرت علي است.» ما له ځان سره وویل: لکه چې دا ټولي الوتکي دحضرت علي هوا یې او ښان دي.

ورروسته په زړه کي را وګرځیدل چې دا حضرت علي خو باید حتماً وپیژنم. په پوښتنه پوښتنه مي دحضرت علي یعني دهوایي او ښانو دڅاروان پته ولګوله. خلکو ویل چې حضرت علي یو ډیر خشن او کرغیړن قوماندان دي. وایي مخ هم ب پوزه نه پریږدي هغه بل کال یې دکابل دا دارګیه پنه اشاره تکړه قوماندان شسالي هم وواژه. وايي چې دجلال آباد هوایي ډګر دده په لاس کي دي او ددي لاري چې کومه ګټه راځي بس دده پر جیب کي لویږي».

دژورنالست ملګري له دي خبرو وروسته مانوري خبري نه اوریدي.لکه زما خیال او ذهن چې حضرت علي په خپلو هوایي اوښانو کي په هوا ګم وي.

خو اوس دخداي ډیر شکرونه دي چې دحضرت علي له لاسه دهوایي اوښانو مهار وتلي دي. په هیواد کي دطالبانو قوت دهیواد کنټرول په لاس کي لري. دوي وايي چې مونږ به دهیواد ټولي ملي شتمني دیو څو تنو غاصبانو او ظالمانو له لاسه اخلو او ملت ته به يې ورکوو. دوي داژمنه هم کړي ده چي ګران هیواد به له ټولو وریښو عذابونو لکه خودسري، فرعونیت، ظلم او دتجزیي له خطره ژغوري.

اوس هغه ظالمان او غاصبان چې دحضرت علي غوندي یې دهوایي اوښا نو مهارونه له لاسه وتلي کله ماسکونه منډي وهي، کله ایران او هند ته چي ګوندي بیا يې دهوایي اوښانو مهارونه په لاس ورشي. خونا، داسي نه شي کیداي، ځکه دوي دملت دقهر جبیري پر مخ وهلي دي. دوي نه دهیواد کونډو، یتیمانو، پورو او زارو ازار کړي دي.

انشاء الله بیا به ددوي پښه او غبلي سره سمه نه شي.

هغه بله ورځ دتیري ظالمي اداري ویاند واکتر (!) عبدالله وویل: دکتي ددره، نور په سیمه کي حضرت علي را پاڅیدلي دي او دطالبانو پر ضد یې جنګ شروع کړي دي. مونږ سیاغلي عبدالله ته وایو چې: سیلاب اخیست څګ ته لاس اچوي. عبدالله جانه دي شوروا ته نهیګي وریجي مه پخوه، هوا دخپل ساشوم او وار خطا زړه دتسلي لپاره ګوره ګوره وایه خوله به دي خوږه وي. خو دومره به درته ووایم چې ستاسو حضرت علي دکونړ دسکلیو ځنګلونو دبي شمیره لښتګو، نښترو، صنوبرو او نورو ونو قاتل دي انشاء الله ويه یې ګوري چي دکونړ دځنګلونو شهیدو ونو غچ تري واخیست.

د ادب ملغلري

اي دقرآن طالبه

طالب العلم نقیب الله (حنفي)

رب دي کامیاب کړه ته یې ور داحترام طالبه
اي دقرآن طالبه
خلک انتظار دي درته سترګي په لار دي درته
کله به شي دخداي لخوا مونږ ته انعام طالبه
اي دقرآن طالبه
که شي فاتح په دشمن وياړي به خلک دوطن
ځکه قبول کړ افغانانو غښتلي طالبه
اي دقرآن طالبه
ته یې افغان تنکیالی هم یې طالب توربالی
تر قیادت لاندي دي ژوند غواړي افغان طالبه
اي دقرآن طالبه
ته قهرمان طالب یې ته قدر دان طالب یې
تا به وطن کي چې د حق کړي اعلان طالبه
اي دقرآن طالبه
تاته سلام دي زما دغه کلام دي زما
ستا انتظار کړي دجنت حوري غلمان طالبه
اي دقرآن طالبه

کله خزان کله بهار

سید محمد فاطمي «انجم»

چې دي زخمونو له قرار راشي
اوس خو دعا کوه چې یار راشي
دتلو تیوس چې یار له مانه وکړي
داسي وختونه په هر ښیار راشي
همیش خو یورنګ ساعتونه نه وي
کله خزان کله بهار راشي
کړي دوکي دي له «انجم» سره دي
په تا به څنګه اعتبار راشي

دا غیرت

عبدالباري غیرت

دا اسلامي شاب نسل، دا دانقلاب نسل
دغه دطوفان بچي، دغه دګرداب نسل
دغه دتاب پریښنا، دغه دسحاب نسل
ور کړه قرباني یې ثن، یادشو دسیلاب نسل
دا په تندروتو ګم
داپه سرواوروتو ګډ
لوړه تمنا لري، هیله دسبا لري
ساتي به وطن په ننګ، ویته دبابا لري
غواړي دقرآن دستور، دي لویه دنیا لري
تاست دي په ګردوتوکښي، ژوند دګوربلا لري
داعقاب دغرو بچي
دادسردرو بچي
ځوك يې تیرابستي نشي، تنګ نه تیریدي نشي
درس یې داسلام لوستي، بل سبق لوستی نشي
غور کسي یې اذان شوي، دالار پریښودی نشي
دا داتلانو زوي، چاته تیتیدی نشي
تل به داهیواد ساتي
ګیل تاریخ به یاد ساتي

پسند

شعر دیهمنت «ستانیزي» انتخاب دطالب العلم محمد اکرم لوني

«که دي عمر تر هزار ساله افزون شي»
خو آخر به دي جسد په خاک درون شي
توري خاوري به امبار شي په تا وروره
ورور او زوي به بیرته کورته درنه ستون شي
تا به پریږدي دنکیر منکر سوالونه
له دنیا به دي برزخ پلوته تلون شي
خپل عمل به درسره وي په دي پوه شه
مال دولت به درته پاته ټن پرون شي
دوباره به بیا ژوندي په رستاخیز شي
حشرګاه ته به دي زر ترزره بون شي
«ستانیزي» درته په سپینه سپنه ووي

شمع یم بلیږمه

شعر دي دلوګري . انتخاب دطالب العلم نوميس الله (سلمي)

لري راته لاړ شه نګارونه مي به زړه کي دي
اوس به دي لمبه کړم سره اوروته مي په زړه کي دي
زړه زما کړم کړم دخلکو ناکردو کړلو
یو پرهر خونه دي پرهرونه مي په زړه کي دي
ټول جهان به رنګ کړمه که آه له خولي نه وباسم
تږښنه راته تښته چې ډندونه مي په زړه کي دي
زه لکه جیحون په سمه غر په څپو شوي يم
هر څه به په مخه کړم موجونه مي په زړه کي دي
توري تروږمي به په رڼا باندي بدلي کړم
شمع یم بلیږم چراغونه مي په زړه کي دي
زه هغه شاهین يم چې په دنګو غرو کي ژوند کوي
حمه کهکشان ته تګلونه مي په زړه کي دي
خان به رسومه خپل منزل ته که مولا کول
حقلنده روان يم همتونه مي په زړه کي دي
کور کهول به پاك کړم دکمون له نوکرانونه
زوي دمسلمان يم امیدونه مي په زړه کي دي
